وهم چنین گردانیدیم شمارا امتي معتدل (مختار)
تاباشیدگواهان برمردم (درقیامت)

# شهادت

ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان


## فرمان الهي

سوگندبه عصرکه هرآیینه انسان درزیان است . مگر آنانیکه ایمان آوردند وانجام دادند کارهاي نیکو - وتاکیدفرمودندیکدیگر را به دین حق وتاکیدکردندیکدیگرا به صبر.
( سورة العصر )

## په بغلان کي ددښمن دري زغروال ټانکونه ویجاړاولس تنه ملحدین ووژل شول

دبغلان ولایت زړه وور اوسرتیرو مجاهدینو دروان کال دغبرگولي دمیاشتي په دوولسمه نیټه دملحد دښمن پرهغو قراوو باندي چي غوښتل ئې دکندزله لاري دخواجه غارپرولسوالي بریدوکړي بولپړیالي عملیات ترسره کړل چي ددغو عملیاتو په ترڅ کي ددښمن څلور زغره وال ټانکونه ویجاړاوڅلورتنه ملحدین ووژل شول ریوټ زیاتوي چي ددښمن قراوي بیرته تګ ته مجبوري شوي اودکندز بغلان لویه لاره هم دومنو مجاهدینو ترکنټرول لاندي ده په بویل خبرکي راغلي چي دملحدرژیم جیټ الوتکي دروان کال غبرگولي دمیاشتي په پنځه لسمه نیټه دبغلان اوکندز دلارو په اوږدوکي دمجاهدینو پرسنگرنو بمونه واورول چي ددغي بمباري له امله کنتونو ته پیر سخت زیان ورسیدلي ریوټ زیاتوي چي په ترموړي نیټه دمجاهدینو ددرندو وسلو په ډزوکي دملحدرژیم یودمخابري موټر سره دشپږوتنو ملحدینو له منځه ولاړ .

شماره مسلسل (۳۳۷) سال چهاردهم ،شماره (۳۳)یکشنبه (۱۹) جوزاي ۱۳۷۰ هـ .ش- (۲٦)ذیقعده ۱٤۱۱ هـ.ق- (۹)جون ۱۹۹۱م

### ورورحکمتیار د جهاد پوهنتون په غونډه کي قومي مشرانوته په خطاب کي وویل:

# په ختیزه اروپاکي ټول کمونستي حکومتونه رنګیږي،خو زموږ. نه ملګري ملتونه غواړي چي له کمونستانوسره ګډ حکومت جوړکړو!!

دجمعي مبارکه ورځ د ۱۳۷۰ کال دغبرگولي ۱۷ نیټه ، جهادپوهنتون ټاون - پېښور - شهادت :
دشهادت ورگمیالي درنو لوستونکیو وادي ستاسي پام پوځل بیاوحزب اسلامي افغانستان د امیرمجاهد ورور حکمتیار هغي تاریخي اوعالمانه وینا بشیرمتان ته راړوو، چي دقومي مشرانو یوي درني غونډي ته یي اوروللي اوجهادي پېښیږه باب یي تحلیلي اودقیق معلومات ورکړي وړاندي کړي دي ، تاسي ټولوته ددغي مهمي وینا دلوستلو بلنه درکوو.

مجاهد ورورانجنیر حکمتیار خپله وینااله حمدوثنا اودقرآن عظیم الشان دڅومبارکو آیتونو له تلاوت وروسته داسي پیل کړه .
زمادایمان اودعقیدي وروڼو ، دقوم درنومشرانو ! زه ترټولو دمخه ستاسي دراتګ نه مننه کوم . چي په داسي لنهوخت کي مو زموږ بلنه قبوله کړه ، داچي بنه راغلاست درته وایم ، زحمت موقبول کړ اودلته مو تشریف راووړ چي دافغانستان دروانو پېښیږه هکله زموږ نظرواوري اوستاسي له رایو نه خبرشو .
زه دستاسي درنو مشرانو دزړه له

> که زموږسرنوشت نوروتاکي، بیا به هیڅکله په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړنه شي.

کومي نه قدرکوم چي په دي اوږده موده کي مودخپل قوم سمه رهنمائي وکړه ، په جهاد کي پاتي شوي ، په جهاد کي مویرخه واخیستله ، پدي لاره کي مو قرباني ورکړه اوخپل قوم مو جهادته تشویق کړ تاسي قوم دیته تیارکړ چي دجهاد اوهجرت دستونځو اوکړاونو په

وړاندي صبروکړي . دوي دهغو په شان نشول چي خپل قوم خرڅوي، له غجیب سره بې سازش وکړي اویا دروس ملګرتیایي وکړه اوبیایي دمجاهدینو له لویو دښمنانو سره ملګرتیا وکړه .
زه له الله پاک نه دغو درنو مشرانو ته اجر اونور توفیق غواړم ، واقعا زموږ قوم

همداسي مشرانوته ضرورت لري. لله الحمد زموږ په تاریخ کي ددغسي مشرانو نومونه ثبت کیږي ، لکه وزیراکبرخان .
اوهغه مشران تل زموږ دتاریخ پیغور ګرځیدلي اوزموږ ولس اوقوم پرهغوي نفرین او لعنت وایي چي دقوم په خلاف یې سازش کړي او ددښمنانو په څنګ کي ودریدلي خپل قوم ، دین، اوملک یې پرنورو خرڅ کړي .
وروڼو ! اوس جهاد خپل آخري پړاوته رسیدلي، دمجیب دکرغیږن رژیم عمرنور پاي ته رسیدلي اوان شاء الله جهاد دکامیابي په وروستي درشل کي

دي، درژیم حالت سخت پریشان اوویجاړدي . اودیقا هرڅانس یې له لاسه ورکړي ، خاصه توګه په شمال اوجنوب کي دوروستیو فتوحاتو له امله چي تقریبا سپاړس ولسوالي اوعلاقه داري دژمي نه بعد په دي لنډ موده کي آزادي شوي ، درژیم پنبي بې لړزولي اواوس فقط پوسترو اوآخري ګوزارته ضرورت دي اوان شاء الله په همدي سره به رژیم نسکوریږي .
خوپه شمال اوجنوب کي دمجاهدینو دخوست اودهغه دشاوخوا ولسوالیو اوعلاقه دارو فتحه ددشت ارچي ، خواجه غار، دشت قلعه ، ینګي قلعه ، درقداودتخاروالایت مرکز اوپه مزارشریف کي دچمتال ولسوالي ، په فاریاب کي دغه ډول فتوحاتو له یوي خوا اودرژیم داویجاړاو پریشان حالت له بلي خوا زموږ ډول دښمنان هغوي چي نه غواړي په افغانستان کي دمجاهدینو په لاس یواسلامي حکومت جوړشي، سخت ویرولي ، ټول هغه څواکونه چي دمجاهدینو عسکري فتحه نه غواړي اوددي نه ویریږي چي دمجاهدینو په لاس دي یواسلامي
( ۳ مخ )

## نتائج امتحانات سالانهٔ دارالایتام سعد بن معاذ طي محفلي اعلان گردید

دحزب اسلامي داجتماعي چارورئیس ورور استادعلي دادارسعد بن معاذ ممتاز شاگردته تحفه ورکوي

گزارشگر : محمدمعروف بخشي

بتاریخ ۱۵ر۳ر۱۳۷۰ نتایج امتحانات سالانه دارسعدبن معاذ طي محفلي درصحن دارالایتام واقع سردارگري پشاور اعلان گردید .
درین محفل که به اهتمام اداره دارالایتام دایرشده بود برعلاوه صدهاشاگردواستاد ،برادراستادعلي انصاري رئیس اموراجتماعي حزب اسلامي افغانستان نیز بدعوت اداره دارالایتام درمحفل اشتراك ورزیده بودند.
محفل ساعت هشت ونیم صبح باتلاوت آیاتي چندازکلام الله مجید توسط برادرعبدالخالق ، یکتن ازمتعلمین دارالایتام افتتاح گردید .
سپس برادر استادعلي انصاري ضمن متوجه ساختن شاگردان واستادان بروظایف خود ، گفتند : شاگردان ومتعلمین امروز وظیفه دارند تا خودرا باسلاح علم مجهزنمایند، دیارهجرت ،دیار سازندگي وکسب علم است ، دیار آموختن است تادرآینده باعلم بتوانیم مملکت ویرانه خودراکه ازظلم وستم روسها ومزدوران شان به مخروبه مبدل شده اعمارنمایم برادر انصاري افزودند: معلمین نه تنها مسئولیت تکمیل پروګرام درسي را دارند بلکه دربهلوي آن، شاگردان خویش را
(ص ٤)

## جبههٔ نجات ملي اسلامي الجزایر اعتصابات راپایان داد.

قرار راپورواصله ازالجزیره ، حزب جبههٔ نجات اسلامي الجزایر اعتصاب عمومي رالسخ کرده است که دراثر آن حالت اضطراردرکشور نافذ وانتخابات عمومي به تعویق انداخته شده است .
رهبران جبههٔ نجات اسلامي میگویند : براساس موافقه ایکه باحزب برسراقتدار حاصل کرده اند،انتخابات براي پارلمان چند حزبي ورئیس جمهوري درظرف شش ماه دایر خواهد شد . اعتصاب عمومي سیزده روزه که به تصادمات شدید همراه قواي امنیتي منجر گردید ودراثرآن یکعده هلاك شدند ،فسخ گردید. این خشونت موجب گردید که رئیس جمهورشاه زلي بن جدید اردو را احضارنموده انتخابات را به تعویق اندازد وکابینه را برطرف کند .

## په کندهارکي د رژیم ٦۰تنه پوځیان وژل شوي او ٦ تنه نوربي ژوندي نیول شویدي

کندهار - میدیا :
دکندهار ولایت څخه په رالیبل شویو ریوټونو کي چي قوماندان حاجي سرکاتب اوملاحکمت الله مخابره کړي ،ویل شوي چي دتوموري ولایت مومنواو بهادرومجاهدینو د ۱۳۷۰ کال دغبرگولي په څلورمه نیټه دکندهارښار ،دکندهار هوټل اوهرات بازار کي درژیم پرپوځي تاسیساتو چریکي عملیات سرته ورسول چي ددغوعملیاتو په بهیرکي ددغوځایونو دري ستري پوستي له منځه تللي . ۲۵ تنه عسکراوملیشه وژل شوي او ۲ تنه نوري نیول شویدي .
ریوټ زیاتوي چي مجاهدینو دپنجتون باغ سیمي پربیرتو پوستو دغبرگولي په دریمه نیټه بریالي عملیات ترسره کړل چي درژیم پوځي سنگرونه تباه شوي ، ۷ تنه پوځیان هلاك او ٦ تنه نوربي مجاهدینو ژوندي نیولي دي .
همدارز دغبرگولي په څلورمه نیټه مجاهدینو دکندهار پرفرقي د دوروتو وسلو وزي وکړي چي . ۲ تنه عسکروژل شوي اودلوژیستکي موادویوه ستره ډیپو له منځه وړل شویده . ریوټونو کي راغلي چي دګروهګي رژیم پوځیان دمجاهدینو ددغو بریدونو له ویري پخپلو اېښودل شویو ماینونو باندي له منځه ځي . په همدي لړکي درژیم ۸ تنه عسکراوملیشي دهمدغو ماینونو په ذریعه هلاك شویدي .
رژیم دکندهارښار کي دوېري وارخطائي شپي ورځي تیروي . دکندهار ښارامنیتي کمربند خپل اهمیت بالکل له لاسه ورکړي اومجاهدین هروخت چي وغواړي ښارته ننوتلاي شي . په پورتنیو عملیاتوکي مجاهدینو ته کوم زیان ندي رسیدلي .

## درتخار ۱۱۷ میل سلاح ثقیله وخفیفهٔ دشمن بدست مجاهدین غنیمت گردید

انجنیر بشیرشهادت یار امیرعمومي جهاد حوزه شمال شرق افغانستان طي پیامي به اداره شهادت گزارش مي دهد که قواي رژیم مزدورروس به سر پرستي حکیم صدیقي به تاریخ ۱۵ جوزاي ۱۳۷۰ بالاي مجاهدین آن جا حمله نمود ، ولي به مقاومت شدید مجاهدین روبروگردیده برعلاوه از تلفات جاني، ٤۵ میل سلاح خفیفه،یك میل زیکویك ویك میل دهشکه بدست مجاهدین افتاد .
منبع درادامه گزارش علاوه مي کند که درهمان روز دشمن ازجناح سرپل کرکچه بالاي کندك هفتم لشکرانصارالله درساحه رستاق نیز حمله ورگردید. گزارش مي افزاید: دشمن برعلاوه اینکه کدام پیشروي نتوانست ، ۷۰ میل سلاح خفیفه وثقیله خودرا بامهمات کافي ازدست داد .

## یك صاحب منصب رژیم کابل با (۱۰) نفرعسکردرسمنگان اسیر گردید

سمنگان - میدیا :
به اساس گزارش هاي واصله ازولایت سمنگان، مجاهدین ولسوالي خلم،عملیات پیروزمندانه را به تاریخ ٦ جوزا بالاي پوسته هاي به اصطلاح امنیتي چشمه صیاد انجام دادند، درنتیجه یك پوسته ستراتژیك بدست مجاهدین فتح گردیده ، یك صاحب منصب عالي رتبه رژیم کابل باده نفرعسکر دراسارت مجاهدین درآمد .
هم چنان طي گزارش دیگر، ٦ نفرعسکرمسلح رژیم کابل ازکندك ٦۵ فرقه ٤۰ ولایت پروان بااستفاده ازعفو عمومي مجاهدین بااظهارندامت ازعمل کرد قبلي شان،درآغوش سپاهیان مومن ماپناه آوردند .

## دشین ډنډ دهوایي ډګر درادار دستگاه اود روغنیاتو یوه ډیپو له منځه یوړل شوه .

فراه میدیا :
په رارسیدلو ریوټونو کي ویل شوي چي زړه وور مجاهدینو دروان کال دغبرگولي دمیاشتي په شپږمه نیټه دځپلو درندووسلو دډزوپه واسطه دشین ډنډ دهوائي ډګر درادارویوه دستگاه له منځه یوړل شوه او دروغنیاتو یوي ډیپواورواخیست .
په بویل ریوټ کي ویل کیږي چي دکندهار - هرات لویه لار اوس درژیم پرمخ تړلي ده .

بنام خدائیکه بي اندازه مهربان نهایت بارحم است

## سر مقاله

### پیترتامسن درکمپ خراسان !

تامسن مهمان ناخواسته اي است که دوسال قبل ازجانب حکومت امریکا درحکومت مؤقت مجاهدین به صفت سفیر معرفي گردید، همانطوریکه تمام معاملات امریکا با مجاهدین ومهاجرین افغان ازبدوجهاد مسلحانه تاامروز خالي از سود وغرض نبوده ، توظیف تامسن نیز موجب سروصداهاي زیادي درمیان حلقه هاي مجاهدین گردید ، وروود تامسن درحکومت مؤقت سبب افتراق و تشتت بیشتر درصفوف شد وهمگان قدوم او را به تشائم گرفتند.
درعرف دیپلماتیك سنت برآنست که دولت ( موفد) نماینده خود را غرض تمثیل سیاست خارجي خود به دولت دیگر ( موفدالیه ) معرفي میدارد دولت موفد الیه مادامیکه از شان وشخصیت سفیر معرفي شده مطمئن نشده و با اعزام وي موافقت ( اگریمنت ) ننماید سفیر نمیتواند کارش را در آنکشورآغازکند، یا بعباره دیگر تقرر سفیر مشروط به صدوراگریمان دولت موفد الیه است .مگراقاي تامسن بدون آنکه وزارت خارجه دولت مؤقت مجاهدین باماموریت او موافقه نماید ،بالجاجت و پر رویي به همکاري وتباني عناصر سلطنت طلب وارد دستگا ههاي حکومت مجاهدین گردید - حرص وآز امریکا براي داشتن سفیر درحکومت مجاهدین بحدي زیاد بودکه دولت امریکا قبل ازانکه دولت مؤقت مجاهدین را برسمیت بشناسد ، سفیر خود را چون مهمان نا خواسته به مقرحکومت مؤقت اعزام داشت ، حالانکه کشور هایکه حکومت مؤقت را برسمیت هم شناخته بودند ،باآنهم نسبت مشکلات حکومت مؤقت تا امروز به اعزام سفیربحکومت مجاهدین مبادرت نورزیده اند.
یگانه انگیزه ایکه تامسن را واداشت تا با بدرقه واسکورت عناصر وابسته به امریکابه کمپ خراسان قدم رنجه کند، این بود تا او بزعم خود ذهنیت مغشوش مهاجرین ومجاهدین را بعد از شایعه قطع کمکهاي امریکا به مهاجرین جبیره کرده باشد.
تامسن میخواست درین دیدار به مهاجرین اطمینان بدهد که علاقه امریکا نه تنها از مهاجرین افغان قطع نگردیده، بلکه کمك هاي دیگري هم درحال سرازیرشدن است . تامسن حرفها یش را وقتي به مهاجرین گوشزد مینماید که امریکا علاوه از قطع کمکهایش ،تصمیم جدي گرفته که معضله افغانستان از طریق مذاکره و گفتگو حل گردد وبهیچ صورتي مجاهدین مجال تاسیس حکومت اسلامي را در افغانستان نیابند و حکومت نجیب رافقط با اندك ترمیم برسریر قدرت محفوظ نگهدارد . نماینده خاص امریکا درکنار عناصر انگشت شماري چند میخواهد که بالاي ثبات سوء وجفا کاري هاي امریکا نسبت به مجاهدین پرده بیندازد . ولي مهاجرین ومجاهدین با هوشیاري وبصیرت اسلامي میدانند که امریکا بهیچ صورت دوست مسلمین شده نمیتواند ،خطر ومضرت امریکا نسبت به مجاهدین کمتر از روسیه نیست ، زیرا هر دو غول جهاني از اسلام
(ص ٤)

## دشمنان اسلام دريك جبههٔ متحد

نصيراحمد حادث

درچندماه اخير ، جهاد افغانستان كه هدف ازآن اقامهٔ حكومت اسلامي ميباشد، شاهد تحولات زيادي در داخل ازيكسو ودرسطح منطقه وجهان ازسوي ديگر بوده است كه بايك نظر عميق ميتوان نكات زيادي را از آن استنباط نمود.

جهاد خونبار اين ملت طوريكه قبلاً انتظار ميرفت باآغازسال جديد بيشتر ازگذشته شدت گرفت . درنخستين روز هاي اين سال، خوست كه از جمله مناطق خيلي مستحكم دشمن زبون بود، بدست مجاهدين راه اسلام فتح گرديد. همچنان مناطق زيادي درگوشه وكنار ميهن از لوث وجود كمونست ها پاك شد وهمين اكنون نبرد حق عليه باطل دربسا از ولايات شدت گرفته وهرلحظه انتظار سقوط مراكز بزرگ نظامي دشمن ميرود .

آغاز اين سال كه توأم با درهم كوبي پايگاه هاى وطن فروشان بود ، به خوبي نشان داد كه پايان آن زودتراز پايان عمر رژيم مزدورنخواهد بود، لذا دشمنان اسلام كه قبلا هم توافق كرده بودند كه بهرنحو ممكن، ازتشكيل حكومت اسلامي در افغانستان جلوگيري نمايند، خواستند باجديت بيشتر از گذشته دراين راه به حركت درآيند.

روس ها كه درجنگ عليه مردم افغانستان از هيچ نوع ظلم وخشونت دريغ نكرده واين سرزمين اسلامي راتوسط استعمال سلاح هاى كشنده ومخرب به ويرانه يي تبديل نمودند وسرانجام ازدست رزم آوران اسلام شكست خورده وهمه داروندار خويش را از دست دادند، هنوزحاضر نيستند ازمنافع استعماري خويش دركشور ما چشم بپوشند، زيرا ايشان كه اين شكست وذلت خويش را ناشي ازتمسك مردم افغانستان بدين اسلام مي دانند ، حاضر اند هرنوع حكومتي را به غير ازحكومت اسلامي درافغانستان قبول نمايند.

ارسال كمك هاي هنگفت نظامي روس ها به رژيم نجيب مزدور بعدازفرارعساكر روسي از افغانستان ، نشانيّ دهد كه روس ها تاچه حدي ازتشكيل حكومت اسلامي دراين سرزمين هراس دارند. از سوي ديگر با فرار ارتش شكست خوردهٔ سرخ از افغانستان وتبديل شدن روسيه ازيك ابر قدرت كه غرب ازآن درهراس بودبيك كشور ضعيف وذليل كه دست نگر ديگران گرديده، غربي ها ودر راس آن امريكا خطر كمونيزم رامنتفي دانسته ومتوجه خطرخيلي ها بزرگتر ازآن براي خود گرديدند . غربي ها تشكيل حكومت اسلامي را در هرگوشه يي ازجهان كه باشد براي خود تهديد به حساب مي آورند، زيرا مي دانند كه پيروان اين دين پرعظمت هرگز به ذلت وخواري تن درنخواهند داد وبه زودي منافع غارتگرانهٔ ايشان درمعرض نابودي قرار خواهد گرفت. پس جاي تعجب نيست كه دريكي دوسال گذشته ، امريكا مانند روس ويا شايدبيشتر ازآن تلاش ورزيده كه از قيام حكومت اسلامي درافغانستان جلو گيري بعمل آرد. ابتكار غرب به سردمداري امريكا مراحل مختلفي راگذشتانده وبا مقدمات زيادي همراه بوده است . گاهي ايشان برعليه رهبران بزرگ جهادي تبليغات دروغين پخش نموده وايشانرا به انواع جنايات متهم كرده اند، تا حيثيت آنها هم درميان مردم افغانستان وهم درمحافل بين المللي خدشه دارگرديده وايشان ميتوانند باتشكيل مصنوعي خلاء رهبري، مهره هاي دست پروردهٔ خويش را درآيندهٔ افغانستان طوردلخواه جا بجا بنمايند.

سپس دسايس امريكا داخل مرحلهٔ جديدي گرديد. مقامات آنشكور تصميم گرفتند تا به اصطلاح كمك هاي خويش رامستقيما به قوماندان مجاهدين در داخل افغانستان ارسال دارند، تا بدين ترتيب ازيك طرف چنان وانمود كنند كه گويا رهبران مجاهدين وتنظيم هاي ايشان اين شايستگي راندارند كه كمك ها دراختيار ايشان قرارگيرد.

وازطرف ديگر تاجائيكه بخواهند درصفوف مجاهدين رخنه بنمايند. اما اين برنامه نيز برعكس انتظار امريكا موفقيتي را باخودهمراه نداشت. زيرا نه تنها بامخالفت شديد تنظيم هاي بزرگ جهادي روبروگرديد، بلكه قوماندان خفته درسنگر نيز آنرا رد نموده ومداخله درامور داخلي افغانستان دانستند.

از سوي ديگر رژيم مزدور كه خود را در دوقدمي مرگ مي بيند ناگزير به هر وسيله يي چنگ مي زند تا مگر از مرگ حتمي نجات يا بد. لذا دربهلوي مزدوري روس ها خواست دل غربي ها را نيز بدست آورد وازبهبود روابط باايشان سخن گفت وگاهگاهي هم بدفاع ازمواقف وپيشنهادات ايشان برخاست، درحاليكه مجاهدين بهمان شدتي كه عليه مداخله روس ها جنگيده بودند، بادست اندازي هاي امريكا نيز مخالفت نمودند.

واين نكته را نيز نبايد ازنظر دورداشت كه عدهٔ زيادي ازكشورهاي منطقه نيز بعداز شكست روس ها درافغانستان، خطر كمونيزم وروس را پايان يافته پنداشته وآهسته آهسته سياست خودرا درقبال افغانستان تغييردادند وبدين ترتيب ثابت ساختند كه اگر ايشان قبلا حمايتي ازجهاد افغانستان نموده بودند، نه به خاطر اسلام بلكه جهت حفظ منافع خود ايشان بوده است . همچنان ازيادآوري اين مسأله ناگزيريم كه باوصف ثبات وپايمردي مجاهدين در راه اقامه حكومت اسلامي در افغانستان ، شايد عده يي ازكشور ها تاچند ماه قبل بدين گمان باطل بودند كه ميتوانند مجاهدين افغانستان را درحلقه يي ازدام هاي خويش گير آرند. اماتحولات بزرگ چند ماه اخير وازآنجمله حملهٔ قواي غارتگر امريكا يي به سرزمين هاي اسلامي عراق وكويت واتخاذ موقف اصيل اسلامي از طرف تنظيم هاي بزرگ مجاهدين، ثابت ساخت كه اين مردم را نميتوان بدام انداخت لذا نيروهاي استعمارگر بيشتر از گذشته به سياست فشار روي آوردند تا قبل ازآنكه كار ازكاربگذرد وحكومت اسلامي در افغانستان تشكيل گردد ازآن جلوگيري بعمل آرند. حقيقت امر آنست كه روس ها وامريكا نيان هريك منافع استعماري خويش را درافغانستان دنبال مي نمايند، روس ها ميخواهندكه از تشكيل حكومت اسلامي در اين سرزمين جلوگيري نمايند زيرا از بيداري روحيهٔ اسلامي دركشور هاي مستعمرهٔ خود در آسياي ميانه هراس دارند كه مبادا روزي اين مردم نيز يوغ استعمار روس راازگردن خويش بدور انداخته وحكومت اسلامي راتشكيل دهند وآنگاه، روس مانند بوم بال ودم بريده يي خواهد بود. واما امريكا كه باتشكيل حكومت اسلامي درافغانستان مخالفت مي نمايد ازآنجاست كه مانند روس ها هراس دارد كه اين پديده باعث بيداري بيش ازيك مليارد مسلمانيكه ازسال ها بدين سو به اين جهاد پرافتخارچشم دوخته اند، نگردد وآنگاه

(ص ۳)

# په ختيزه اروپاكي ټول كمونستي حكومتونه رنګيږي ،

دحكومت په ځنګ كي دملت په خوښه بوه شوراجوړه نه شو ، موږ ددي حكومت نه وونلو پاكستان ددي موقت حكومت ملاتړ كاوه . له هغه سره يي مرسته كوله او نورومملكونو هم همداسي كړل، هغوي چي ځانونه يي د جهاد دوستان ګڼل، هغوي هم پدي خبري ټينګاركاوه چي دموقت حكومت ملاتړدي وشي ،اويواځي دحكومت ملاتړدي وشي، مرسته اوتعاون ، سياسي اومعنوي هرڅه دي يواځي ددي حكومت سره وه شي موږخلكوويرولو، خوموږ په ميړانه اوجرأت سره دهغه مخالفت وكړ، دحكومت نه وتلي يو ويلي موږ دي ترڅو دملت په خوښه بوه منتخبه شورا جوړه نشي او داحكومت دملت نه داعتماد رايه وانخلي، مورداحكومت نه منو، كه ټوله دنيا موږ يواځي پريږدي ، كه په محاصره كي يو، كه زموږ په خلاف مشتركه جبهه جوړه شي، ددي پروانلرو، موږ په جرأت سره دهغه موقت حكومت چي ناكام و ، ومولیدل چي دي حكومت ددي جهاد لپاره څه وكړل؟ زموږ كوم مشكل يي حل كړ؟

ددغه حكومت په نتيجه كي څومره زموږ جهاد سوړشو، څومره تاوان موږكي، زه باورلرم كه په دي موقت حكومت كي موږ نه واي مصروف شوي نو نجيب به ترننه پوري پاتي نه و دغه حكومت موږدلته مصروف كړو .

جهادنه پاتي شو ، جهاد ته له اعتناء او توجه نه پاتي شو، ددي په ځاي چي په جهاد باندي تركيز اوټينګاركړو، په دي كاروتوكي دلته مصروف شو ، چي څه مو درلودل دلته په وزګاروماموريتو اويي كاره دفاترو باندي مومصرف كړل ، زموږ ټول كارهمدغه و، چي دلته مجلل دفاترولرو، اوهردفتركي په زرګونو معاش خور چي هيڅ كار اووظيفه هم نلري ، چي څه دجهادپه نامه دجهاد دوستانو كړل هغه دلته بايد ټول پدي حكومت باندي مصرف شوي واي اويه پاي كي موولیدل چي حكومت ويجاړشو، چوكۍ اوميزونه يي وتښتول شول ، چادتيلفون ګوشك تښتولو ، چاميز او چوكۍ تښتولي ، ماموريتو مظاهري وكړي، موږيه دي پوهيدلو چي ددي حكومت انجام همدغه دي، په همدي خاطر موږددي حكومت نه ووتلو ، نه موغوښتل چي په دي رسوائي كي موږهم بدنام شو، موږ نه غوښتل چي پدي كارونو كي مصروف شو، په همدغه موده كي تاسو ولیدل چي حزب اسلامي سترسترکارونه وكړل . كم له كمه دومره وتوانيداي شو، چي درژيم پرخلاف بوبوكړي پاڅون تنظيم كړو خلكوګومان كاوه چي كه په حزب باندي قيود وضع شي، محاصره شي، نوشايد حزب تسليم شي، ولي موږخلكوته وښودله چي دحزب محاصره اوشرائطو ته تسليمول اسانه ندي اوكه بوه لار پرموږ بنده شي، موږ نوري لاري هم اختياروولاي شو، حزب اسلامي ابتكار لري، اوومولیدل چي موږيه همغه وخت كي چي نورټول په حكومت كي لګياوو او خلكوسره داويره وه ، چي نورحزب شايد ختم شي، ټولو ملكونو هغه يواځي پريښود تجريد شي، تاسو وليدل، چي موږكابل ته څومره سترګوزاروركي، په قصرriاست جمهوري باندي بمباري وشوه

ستاسو به په ياد وي چي موږ ددي پيشنهاد وكړ چي افغانستان ته دي نور دوسلو دليږلو سلسله بنده شي ، دوه كاله دمخه موږدابيشنهاد وكړ، موږ وويل چي روسان دي دوسلو ليږل بندكړي، موږددي تضمين كوو چي ددي خوانه به افغانستان ته وسله نه ځي، ددي په ګټه پوهيدلو . په دي مصلحت پوهيدلو چي كومه ورځ به نجيب وسله بنده شي په همغه ورځ به يي حكومت ختميږي . موږ پدي پوهيدلو چي كه امريكا ددي مخالفت كوي، خپل شوم اهداف لري' هغه ددي جنګ طولاني كول غواړي، هغه ددي جهادي تنظيمونو ختمول غواړي، دهغه هدف دادي چي جنګ لږ طولاني شي ، هغه دقوم دتجزيي او دتنظيمونو دتضعيف لپاره بوڅه فرصت ترلاسه كړي، هغي ددي لپاره دجنګ ادامه غوښتله ، كه دوه كاله دمخه دوسلو ليږل افغانستان ته بندشوي واي، دكابل رژيم به لادوه كاله دمخه ختم شوي و . ولي متأسفانه دښمنان خوپريږده ، دمجاهدينو له منځ نه هم داسي كسان وو ، چي ددي مخالفت يي كاوه ويل يي چي داپيشنهاد خودنجيب په ګټه دي نجيب خوسلاح كوټونه او ذخاير لري ، اومجاهدين څه نلري ، معني يي داده چي نجيب پاتي كيږي ، نجيب ويريږي ددي مخالفت كوي، روسان دي ته تيارندي اوموږ پوهيږو چي كه نجيب ته هره ورځ ديرش ځلوښت طياري مهمات رانشي ، پنځه ورځي هم جنګ ته ادامه نشي وركولاي ، نجيب په همدغو وسلو ولاړدي

، هغو غربيانو ته چي معلومات نلري او دافغانستان له داخلي حالاتونه خبرنه وو، ددي مخالفت يي كاوه موږ دوه كاله دمخه ددي پيشنهاد كړي و چي افغانستان ته دي دوسلي ليږل بندشي او زه باورلرم چي په كومه ورځ هم چي افغانستان ته دوسلي ليږل بندشي، نو دنجيب به آخري سلګي وي، بيا نجيب ته دپاتي كيدلو امكان نشته .

ورونو ! پدغو شرائطو كي چي جهاد دخپلي فتحي اوبري په ورووستي درشل كي دي . دنجيب حالت سخت پريشان او ويجار دي اودښمنان ټول وارخطا دي چي ميادا دمجاهدينو په لاس په افغانستان كي اسلامي حكومت جوړشي، خواحتمالي كارونه دمجاهدينو په خلاف ممكن دي .

لومړي كاردادي چي شايد په داخل كي دمجاهدينو ترمنځ داخلي شخړو اوجګړوته لمن ووهل شي .

دكوږ پيښه له دغو نه يوه ده داسي ګومان مه كوي چي دكوږ پيښه يوه منطقوي اويه يو ولايت كي ددوو ډلو ترمنځ يوه عادي پيښه ده ، پداسي وخت كي چي په كابل دعملياتو لپاره مجاهدين ځانونه آماده كوي دلغمان لپاره مجاهدين ځان تياروي ، دګرديزاولوګر له پاره مجاهدين تياري نيسي، په پروان ، ميدان ، غزني ، اوكندهاركي مجاهدين لګيادي ځانونه براپروي . په همدغسي وخت كي چي په كنړكي يوه پيښه هغه هم په دغسي بوانداز ترسره كيږي دا عادي پيښه مه ګڼي ، ممكن هغه كسان چي پدي كي ملوث دي ، بوه هم نه وي، خبرهم نه وي چي دسويچ په سرديا ګوته ده او كيلي دچاپه لاس كي ده ؟

دي جنګ ته چالمن وهلي ده ؟

چاپيل كړي ؟ پلان چاجوړكړي ؟ ددي جنګ هدف څه دي؟ شايد هغه غريب خبرهم نه وي اودبوبي خبره جنګجو په حيث چي ټوپك يي پراوزه دي ، سوق كيږي ، خو خبرندي چي چيرته روان دي ، جنګ ته سوق كيږي ، خو پوهيږي نه چي ددي جنګ هدف ، مقصد اونتيجه څه ده ، شايد څيني كسان پدي انداز كي پدي جنګ كي ملوث شوي وي، لګياشوي وي، ولي حقيقت دادي چي ددي جنګ ترشا ددښمنانو لاسونه ملوث دي . هغوي داجنګ پيل كړي، موږ ته يوه مباشت داخبر ورسيدوچي يوه ډله غواړي په كونړكي جنګ پيل كړي ګومان مونه كاوه ، داهغه ډله ده چي ديو استخباراتي شبكي په لاس جوړه شوي اودهغوي مقصد داو چي په افغانانو كي مذهبي اختلافاتوته لمن ووهي .

داهغه ډله ده چي همېشه به يي ويل چي دمذهب پيروي شركت دي اودا دمذاهبو ائمه (امامان ) اصنام او بتان دي ، چي دمذهب پيروان دهغوي عبادت اوپرستش كوي، داهغه ډله ده چي دلته به يي تعويذونه غوڅول او پټوي پټوي په خلطو اويوجيو كي به يي عربي ملكونو ته ليږل ، هلته به يي په خلكوپيشل چي داافغانان خومشركين دي، داګوري دايي تعويذات دي، چي موږترينه را ټول كړي او په افغانستان كي جنګ دمشركينو اوملحدينو ترمنځ روان دي، دااسلامي جهادندي ، دقبرونو دجنوعكسونه به يي اخيستل اويه مجلوكي به يي چاپول بيابه يي عربي ملكونو ته ليږل اوويل به يي چي دادي ګوري داموحدين ندي دامشركين دي ، جنګ دلته دمشركينو اوملحدينو ترمنځ روان دي .ددغي استخباراتي شبكي هدف داو چي هلته په عربوكي خلك ددي جهادنه متأثر ، نشي اودادجهاد روحيه هلته هم انتقال نشي، هلته هم خلك داسي ونه ګڼي چي داسلامي جهاد په نتيجه كي لويو لويو طاقتو ته شكست وركول ممكن دي اوهغه خلك داسي ګومان وكړي چي دا اسلامي جهاد ندي بلكي دادمشركينو اوملحدينو ترمنځ جنګ دي، موږ ګومان نه كرلو چي دابه دحزب په خلاف هم دجنګ اراده وكړي، دنورو ډلو مراكزيي ونيول، جبهات يي ورته شنډكړل ، له منطقي نه يي وايستل ، نور تنظيمونه اوجبهات موږته راتلل چي زموږ مرسته وكړي ، موږويل چي حزب اسلامي ددي داخلي جګړو نه كركه لري، نه غواړو چي په دي جنګونو كي ملوث شوچي كله بومياشت دمخه موږته احوال ورسيدوچي دغه ډله دجنګ اراده لري اوتياري نيسي اودبوملك خاص خلك او تربيه شوي كسان هم تللي لګيادي ددي لپاره ځان تياروي . موږ ويل چي ګومان نه كوو چي هغوي دي ددي جرأت وكړي ، چي له حزب سره ټكراوتصادم وكړي ، ولي ناڅاپي پداسي حال كي چي موږته تياري درلوده ، نه موتصور كاوه ، نه مودجنګ اراده وه ، زموږ په مركز ونو باندي په

چڅه سراي اوسرګانو كي حمله وشوه ، حزب اسلامي مخكي هم ډيرڅه كولاي شول او ان شاء الله اوس هم ډيرڅه كولاي شي، دچڅه سراي په فتحي كي اساسي او بنيادي رول دحزب اسلامي و ، آسماريواځي حزب اسلامي ته تسليم شو، تاسويه خبرياست چي داسمار دتسليميدونه بعد ، په چڅه سراي دحزب اسلامي عمليات پيل شول اوباوروكړي چي ددي ډلي بوفردهم دچڅه سراي په جنګ كي نه شهيدشوي، نه زخمي شوي اونه يي په كي برخه درلودله ، زه ددي ادعاكوم چي دچڅه سراي په فتحي كي ددغي ډلي بوفرد هم نه زخمي شوي او نه شهيد شوي او چڅه سراي دنورومجاهدينو په لاس فتحه شوي دي .

خوموږ حوصله كړي ، نه غواړو چي په دغسي جګړو كي مصروف شو، او ددي په ځاي چي په لويولويو كارونو كي خپل وخت ولګوو ، هغوته توجه وكړو ، نه غواړو چي په دغسي پيښو كي مصروف شو، اوس موږويلي چي بايد څوكاره وشي

هغه حكومت چي دي ډلي په چڅه سراي كي دامارت اسلامي ترنامه لاندي اعلان كړي اوله نورو نه غواړي چي داحكومت ومني اودغه حكومت دجګړو اوشخړو عامل اوانګيزه ده ، دابايد منحل شي، په لارو كي چي هغوي كوم څنځيرونه اودتفتيش كوم نقاط جوړكړي اومسافرين اومجاهدين څوروي،بايد داڅنځيرونه ختم شي، دنوروتنظيمونو چي كوم مراكز ، وسايل اوجبهې نيول شوي دامراكزبايد دوباره مسترد شي، په كونړكي بايد دټولو تنظيمونو په خوښه اواتفاق مشتركه اداره جوړه شي، اودمجاهدينو په خلاف نورداتبليغات اوتبواګاني صادرول بندشي، دمجاهدينو په خلاف داويل چي دامشركين دي اودمذهب پيروي شرك دى ، داتبليغات بايد بندشي كه دا په لنده موده كي ونه شول، نوكه له دي ډلي سره څه كيدل، مسئوليت به دهغوي پرغاړه وي، موږ دجنګ غوښتونكي نه يو.

ورونو ! خو كه هغوي په جنګ اصرار كوي اوزور ګوټي كوي اودنورو په رپالونو مست شوي وي نو بيابه موږ هغوي ته وښيو ، مسئوليت به دهغوي په غاړه وي، په دي جنګ كي دبوملك ډيرو كسانو برخه اخستي اوځلوركسان يي په قتل هم رسيدلي دي هغوي هم دهمدي لپاره راغلي اووايي چي مجاهدين مشركين دي اودهغوي قتل له ملحدينو نه دمخه واجب دي، متأسفانه هغوي اوس هم داسي تبليغات كوي، عرب زموږ وروڼه دي، دخپل ايمان په حكم دلته راغلي اوزموږ بچي بچي به هم دهغوي قرباني هيره نكړي اود اهغه خلك دي چي داپان اودعقيدي په حكم راغلي اوزموږ په سنګرونوكي ، زموږ تر څنګ ودريدلي دي، خو څيني داستخباراتي شبكوپه لاس راليږل شوي ، چي هغوي غواړي داسي فتني جوړي كړي ، موږ ويلي چي له كونړ نه يه داخلك رو ځي، همداخلك چي په داخلي جنګونو كي ملوث دي اوكه پاتي شول اوځه ورسره وشول نومسئوليت به يي ددوي پرغاړه وي .

ورونو ! موږ داټول ددي لپاره كوو، چي په منطقه كي نوردجنګ عوامل ختم شي اوهلته دټولو په اتفاق او خوښه مشتركه اداره جوړه شي .

ددغسي نورو پيښو احتمال هم شته په نوروځايونو كي هم داسي كسان دي چي هغوي په پردهو پوري تړلي دي ، شايد تر دي وروسته يي وهڅوي اودغسي داخلي شخړي او جګړي دهغوي په لاس پيل شي اوددي احتمال شته چي دهغوا حزابو ترمنځ داختلافاتو دراپيداكولو لپاره دښمنان كوښښ وكړي، چي ددغوتوطئو په ورانندي كلك اومقاوم ولاړ دي، شايد تروروته پيل شي، دلويو لويو كسانو ، قوماندانانو اوشخصيتونو ترور احتمال لري، انفجارات وشي، لكه دنوښار دانفجاريه شان، بايد ددي په وړاندي موږبيدار واوسو اولازم او مناسب تدابيرونيسو . لكه ترننه پوري چي موږددښمن هره توطئه شنډه كړي،ان شاء الله ددي نه پس به هم ددښمن توطئي شنډوو . داددغو قومي مشرانو وجيبه اوفريضه ده چي قوم ته يه رهنمائي كوي او ددغو توطئو شنډولو لپاره يسـه تياروي، بايد ولس پوه كړو اودا قومي مشران بايد خپل قومونه پردغوتوطئو چي دجهاد په خلاف رواني دي پوه كړي، بايد دبهرنيو لاس وهنو په كلكه مقابله وكړو، زموږ په جلسو كي بايد بهرني كسان دبرخي اخيستو جرأت ونشي كولاي، دالاسونه بايد قطع كړو، له بهرنه چي هرڅوك دافغانستان په داخلي امورو كي مداخله كوي، چي هرڅوك وي، بايد ددي

جرأت ونكړي ، مخه يي بايد ونيسو ، څوك چي له موږ سره دوستي كوي، توزموږ په داخلي اموروكي به مداخله نه كوي، لكه څنګه چي موږ ته داحق نه راكوي، چي دهغوي په داخلي اموروكي مداخلت وكړو، حتي دبوي خبري حق هم نه راكوي، دغسي بل هم بايد ددي جرأت ونكړي چي زموږ په داخلي امورو كي مداخلت وكړي، بايد هغه قومي مشران باوله چي په سازشونو كي ملوث دي اوخپل قوم خرڅوي، دهغوي څيري بايد خپل قوم ته افشاء كړو، له قوم نه يي تجريد كړو اوهغه بايد دامحسوس كړي چي قوم له هغوي نه كركه اونفرت لري ، بايد ولس دجهاد ادامي ته تشويق اوترغيب كړو او پردي يي قانع كړو چي ترڅو چي دنجيب حكومت نه وي نسكور شوي اودملت په خوښه بومنتخب اسلامي حكومت نه وي جوړشوي وسله به په ځمكه نه پدو ، سنګرونه به نه پريږدو ، له جهادنه به لاس نه اخلو او دجهاد اوهجرت داكراوونه به زغمو .

بايد زموږ دولس دقردقرديه خوله كي داخبره وي، له هرمنبرنه داپرغ اوچت شي، په هر سټيژدا خبره وشي ، دقوم هرمشربايد دا خبره وكړي ، ووږ، لوي، مجاهد اومهاجر داخبره وكړي ، چي موږبه بهر نه تپل شوي حكومتونه نه منو، حكومت بايد زموږ دملت په خوښه جوړشي، اوبايداسلامي حكومت وي اودغه كسانونه جوړشوي وي چي پدي جهاد كي يي برخه اخستي ده ، ملت وربانْدي اعتماد لري،دملك په آزادي كي يي قرباني وركړي ، ددغو كسانو نه بايد راتلونكي حكومت جوړشي .

ورونو ! زه بايد ددي خبري هم وضاحت وكړم چي حزب اسلامي ترټولو دمخه سوله غواړي ، خو واقعي سوله ، دوامداره اوعادلانه سوله ، درواغجنه سوله نه ، داسي نه چي دسولي ترنامه لاندي څوك زموږ دغلامي او اسارت كرښش وكړي ، يااله بهرنه پرموږ حكومتونه تحميل كړي، څوك چي دجهاد ستوتڅي اوتكليفونه زغمي طبيعي ده چي هغه به دسولي ترټولو دمخه غوښتونكي وي ، څوك چي په جهاد كي برخه نلري ، حتي بوزه يي هم نده وينې شوي ، دجهاد ګردو غبارهم دهغه په مخ اوسرندي پريوتي ، هغه څه پروا لري ؟ چي كه جنګ وي ، وينې توئيږي ، كه بوټنه‌اوريږي اوكه سوله وي. هغه ته ټول برابردي ، سوله به هغه څوك غواړي چي پدي اوركي سوځيږي .

، دهغه زوي او ورور شهيدكيږي ، دهغه كلي خپلو ان په سنګرونو كي دي، هره ورځ په هغه باندي بمونه‌اوريږي، موږ سوله غواړو خوواقعي سوله .

موږ غلامي نه منو، موږ پرديونه سرنه ټيټوو ، موږله اسلام نه په كم شي نه راضي كيږو، كه ټول قوم داسلام لپاره مړي موږيته تياريو، كه داټول قوم مورداسلام په خاطر په شهادت ورسيږي دامنو، خوغيراسلامي حكومت نه منو، نجيب دجنګ دادامي عامل دي، هغه جنګ غواړي، كه هغه لري شي جنګ به پاي ته رسيږي ، سوله به په ملك كي تأمين كيږي ، هغه دي له قدرت نه لاس ، خلي بيادي زموږ ملت ته موقع وركړاي شي ، چي بو منتخب حكومت جوړكړي . موږ دي ته تياريو،په جنګ ټينګارنه كوو ، موږ ترهرچانه دمخه دغسي سوله منو، داداسلام دښمنان دي چي غواړي له افغانستان نه لبنان جوړكړي اوټل خوتريږي وي دلته تل جنګ ادامه ولري ، دلته امن رانشي دلته بومستقر، قوي اوثابت حكومت جوړنشي اوهميشه دلته شخړي اوجګړونه وي اوددوي دلاسوهنو لپاره لاره هواره وي، دازموږ دښمنان دي چي داغواړي ،موږغوړي افغانستان غواړو، په افغانستان كي سوله اوامن غواړو،دملت دخوښي بومنتخب اسلامي حكومت غواړو، داددښمنان دي چي غواړي دخپلي خوښي حكومت پرموږ تحميل كړي .

غواړي په افغانستان كي دملت په خوښه بواسلامي حكومت جوړنشي .

ورونو ! زه په پاي كي تاسوته اطمينان دركوم چي حزب به تر ووروستي سلګي دخپل قوم په څنګ كي وي، دخپل ولس په خواكي به وي اويه دي ستونځو او كړاونو كي به له هغوي سره شريك وي، دملت په غم او ښادي كي به له هغوي سره شريك وي ترڅوچي په افغانستان كي دولس په خوښه بواسلامي حكومت نه وي جوړشوي . موږ به خپل جهادته ادامه وركوو او له هيڅ ډول قرباني نه به هم ځان نه سپمو .

ان شاء الله خيرالماكرين خداي به داټولي توطئي شنډوي اوپاالاخره به دملت په خوښه بوقوي منتخب اسلامي حكومت جوړيږي .

اقول‌اقولي هذا استغفرالله لي ولكم والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته .

" ديرخوالو تكبيرونه "

# خاطرهٔ يك افسرزنداني

به جريده وزين شهادت ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

حقيقت اين است كه من نويسنده نيستم وتا كنون اقدام به تحرير مضمون وبامقاله براي روزنامه وبامجله نكرده ، واما روي يك احساس بخصوصي كه برايم دست داده جرئت به نوشتن چند سطر زير مينمايم ومتوقعم باوصف كمبود بهاي متعدد ادبي به عنوان انعكاس يك احساس واقعي نگارنده اين سطور به نشر آن درجريده شهادت بذل توجه وهمكاري نموده ممنون سازيد.

خودم يك افسر نظامي مربوط به قوا ي مسلح رژيم كابل ميباشم كه چندي قبل در داخل افغانستان درجريان يكي از فعاليت ها ي محاربوي بدست مجاهدين حزب اسلامي افغانستان ، اسيرگرديدم واكنون درپشاورتحت توقيف قراردارم ، با صداقت ميتوانم ابراز نمايم كه خودم ازجملهٔ منسوبين وافسران قواي مسلح رژيم كابل ميباشم كه چند سال قبل بيهودگي وخطر مقاومت رژيم به سراقتدار كابل رادر برابرملت افغانستان وخسارات مهلك وجبران ناپذير ناشي ازآنرا دريك سطح معين درك ميكردم وحالت نارضايتي وجداني بالايم مستولي بود ، اما شرايط وتاثيرات ناشي ازمحيط كه مادرآن زندگي وكارميكرديم وتبليغات وسيع دولت عليه مجاهدين كه لبهٔ تيزآن عمدتا وارونه جلوه دادن ماهيت جهاد ومبارزه مجاهدين ومبارزين حزب اسلامي افغانستان بود ، هنوز احساس بي اعتمادي را برمن دربرابر مجاهدين وحزب اسلامي افغانستان حاكم نگهداشته بود ولي به گفتهٔ شاعر كه " خوش بود گرمحك تجربه آيد بميان تاسياه روشود هركه دراو غش باشد

امامن درين روزهائيكه اينجا بسرميبرم ميتوانم همزمان بامشكلات ظاهري آن ،آنرا بهترين روزهاي زندگي چندين ساله ام توصيف نمايم زيرا درين روزها فرصت دست داد تا به بسياري ازمسايل مهم كه متاسفانه درسالهاي اخير ازحيطهٔ توجه والتفات من خارج بود توجه نمايم ' آرزو هاي موجوديت من درينجا اگر ازيكسو جواب ردتمام تبليغات گيج كنندهٔ دستگاه هاي پروپاگندي رژيم كابل . درمورد چگونگي برخورد برادران حزب سلامي افغانستان با اسيران جنگ را بدست داد،ازسوي ديگر روزهاي بختگي خط فكري وعقيدتي من بود كه چند سال قبل برايم دريك حد نازل دست داده بود وبه صحت اين ضرب المثل پشتو معتقد گرديدم كه ( كه كوټه وسوځيده نوديوالونه يي پاخه شول ) فعلا خودرا با تمام نارسايبها وكوتاهيهاي خويش ومتاسفانه عدم معلومات كافي ودرك نازل از پهناووسعت بيكران دين مقدس اسلام ميدانم واين بهترين وسيله وسبب آرامي وجدانم را فراهم ساخته است ، من اينجا بعدازچندين سال سركشي با اداي فريضهٔ پنج وقت نمازسرتعظيم وتسليم خويش را به معبود برحق ومسلم مسلمانان فرود مي آورم وهمزمان به تلاوت قرآن پاك مي پردازم.

طي موجوديت خود درين برادران صالح حزب، رفته رفته قانع ميگردم كه حزب اسلامي افغانستان يگانه اجتماع نيرومند اسلامي است كه حامي بهترين ارزشهاي معنوي وعقيدتي دين مبين اسلام دركشورماست كه به اساس معيارها و نورم هاي دقيق اسلامي ،عقيدتي وتنظيمي استوار ميباشد.

كه به پندارمن پيروزي آنرا درمبارزه دشوار آنهم دراوضاع واحواليكه از طرف مخالفين متعدد ورنگارنگ شان سخت تحت فشار ، محاصره وآماج تبليغات قراردارد .

به مدد وياري خداوند بزرگ تضمين مينمايد ؛ به نظر من حزب اسلامي افغانستان سرقافله كاروان بزرگ انقلاب اسلامي افغانستان است كه ازراه هاي نامكشوف پرازپيچ وخم وناهموار درحركت است . حقيقت مسلم اين است كه ديگر اين كاروان به آن نقطهٔ حساس خويش رسيده است كه رجعت وجلوگيري ازسرعت شتابنده آن ناممكن ومحال است

(ص ٤)

# په ختیزه اروپاکي ټول کمونستي حکومتونه رنګیږي ،

له کست نه پلي کیدنکي احمدشاه "احمدي"

حکومت جوړشي، هغوي وارخطا شوي، داوروستي تحرکات چې تاسو یې دلته هلته ګوري ، سیاسي هلې ځلې اویو ځل بیا دافغانستان دقضیې مسالمت آمیزه سیاسي حل خبري اتري ، ددې ټولو عامل دمجاهدینو داوروستي فتوحات دي که دمجاهدینو داوروستي فتوحات نه واي ، نو حالات په هماغسې آرام و اوناسویه کوم تحرك نه وو لیدلي لکه څنګه چې له دغوفتوحاتو نه دمخه وو. ددښمن کوشش داو چې حالات همداسې ساړه پاتې شي ، اوپه هغه کې څه خاص تودوالي اوتبدیلي رانشي ، اورژیم بوڅه نوره موده دوام وکړي اوملت ته داثابته شي چې مجاهدین درژیم له پرځولو نه دجنګ اوجهاد په وسیله عاجزدي . باید رژیم دیوقوت په حیث ومنې اودوطن حزب دیوقانوني حزب په حیث قبول کړي چې دافغانستان په مستقبل کې څه برخه ولري . دهغوي کوشش داو . ولې لله الحمد دمجاهدینو دغو وروستیو فتوحاتو، بریالیتوبونو دهغوي داهڅه ناکامه کړه اوس ددغو نویو تحرکاتو دوه ستراهداف دي .

لومړي داچې داروان جنګ سوړکړي دمجاهدینوددغوفتوحاتو سلسله ختمه کړي غواړي داودیې په خبرواترو کې تیرشي اوستګرونه یوځل بیاساړه شي ، په مجاهدینو کې داکاذبه او درواغجنه امیدواري راپیداشي چې کیداي شي دافغانستان مسئله دجنګ نه پرته دخبرواترو له لارې حل وفصل شي . هغوي غواړي دهغو عملیاتو مخه ونیسي چې مجاهدین ځان ورته برابروي چې مجاهدینویې په کابل اودکابل په شاوخواکې مرکزونوباندي دعملیاتو لپاره کومه تیاري نیولي اودښمنان یې سخت ویرولي ، چې شاید ددې ګوزارسره نور رژیم نسکورشي ، دهغوي کوشش دادي چې ددې عملیاتو مخه ونیسي . په ټول ولس کې دا کاذبه امیدواري راپیدا کړي ، چې کیداشي مسئله دخبرواترولې لارې حل وفصل شي ، ټولو ملکونو په خپلو منځو نو کې توافق کړي ، نجیب هم دیته تیارشوي ، روس هم اوس دافغانستان دمسئلې حل غواړي . هغه ملکونه هم دیته تیارشوي چې ترپرونه پورې یې دمجاهدینو ددوستي دعواکوله یاد مجاهدینو دوستان ګڼل کیداي شي ، وایې چې ضرورت دیته نشته چې په جنګ باندي ترکیز وشي، باید عملیات وځنډوو ، اوجنګ متوقف کړو ، ددغوخبرواترو اوروغې جوړې لارغوره کړو.کیداي شي پدې ترتیب دافغانستان مسئله حل وفصل شي، ددښمنانو لومړي هدف دادي چې دادویې هم سوړاوآرام تیرشي اوددغو رواتو عملیاتو مخه ونیولې شي او دکومو عملیاتو لپاره چې مجاهدین ځان برابروي هغه وځنډوي اوددغو تحرکاتو دوهم هدف دادي چې ځینې ضعیف النفسه ولې چې په جهادکې یې برخه نه وه ، تل دجهادپه وړاندي څنډواقع شوي اوهغوي په مدارمدارخپل حیثیت اواعتبار په قوم کې له لاسه ورکړي . له ملت نه بیګانه شوي ، مجاهدین ورنه بیل شوي، دغه ضعیف النفسه ولې دیته تیاري کړي ، چې دنجیب سره یوائتلافي حکومت جوړکړي اوددوي دنجیب په شمول دهغو تنظیمونو پرخلاف متحده جبهه جوړه کړي چې غربیان ورته بنیاد ګرایان وایي . غرب یې افراطي ګڼي اودهغوي‌له بریالیتوب اودهغوي په لاس په افغانستان کې دیواسلامي حکومت له جوړیدونه ویریږي .

ددوي کوشش دادي چې داجبهه جوړه کړي . متاسفانه پدې کې ځینې اسلامي ملکونه هم ملوث دي ، دهغوي کوشش هم دادي چې داائتلافي جبهه دې جوړه شي، هغوي هم له دې نه ویریږي چې په افغانستان کې دې یوقوي اسلامي حکومت جوړشي ، هغوي یوضعیف افغانستان خوښوي . متشنج افغانستان چې له داخلي اختلافاتواوشخړوسره مخامخ وي او یوضعیف حکومت یې وي، هغوي ددغسې یوافغانستان غوښتونکي دي، هغوي هم ددې هڅه کوي چې دنجیب اوددغو ولو ترمنځ یو ائتلافي جبهه جوړه کړي، دنجیب مقصدددغو خبرواترونه صرف دادي چې هغه غواړي په رژیم کې اوپه خاص طوریوځ کې خپل هغه مخالفین چې له جنګ نه ستړي شوي، دې ته ندې تیارچې د نجیب لپاره نوري وینې توی شي، نجیب دجنګ دادامي عامل ګڼي، نجیب غواړي چې ددوي دمخالفت په نتیجه کې داحتمالي قیام اودهغه پرضدله پورته کیدو اویبا له مجاهدینو سره دهغوي یوځاي کیدو مخه ونیسي هرباشعوره افسر

